جزايي ريفورم

## د يوويشتمې پېړۍ له پاره يوه نوې خېړنه

د جزايي ريفورم له پاره د۱۹۹۹ کال بين المللي کنفرانس

# د جزايي ريفورم

# په اړه يو نوی پروګرام


د جزايي څېړنو بين المللي مرکز

International Centre for Prison Studies

د جزايي ريفورمونو نړيواله موسسه

Penal Reform International

# د جزايي ريفورم په اړه يو نوی پروګرام

## د جزايي ريفورم له پاره نړيوال کنفرانس

د۱۹۹۹ کال د اپريل۱۳ -۱۷

**Royal Holloway College**
**University of London**
**Egham, Surry, United Kingdom**

پی. آر. آی. او آی. سي. پي.اس. د بريتانيا د باندنيو او کامنويلث د چارو وزارت، د نړيوالي مرستو وزارت او همدا شان د امريکا د متحدو ايالتونو د پرانيستي تولني انستيتوت ته کور ودانی وايي چې د دې کنفرانس ملاتړ يې وکړ.


Prison Studies (I.C.P.S.)

King's College London
75-79 York Road
London SE1 7AW
United Kingdom
Tel: +44(0) 207 401 25 59
Fax: +44(0) 207 401 25 77
E-mail: icps@kel.ac.uk
Website: www.kel.ac.uk/icps

Penal Reform International (P.R.I.)
London office
Unit 450
The Bon Marche Centre
241-251 Ferndale Road
Brixton, London SW9 8BJ
United Kingdom
Tel: +44(0) 207 924 95 75
Fax: +44(0) 207 924 96 97
E-mail: headofsecretariat@pri.org.uk

Penal Reform International (P.R.I.)
Bureau de Paris
40, rue du Chateau d'Eau
75010 Paris, France
Tel: +33 (0) 1 48 03 90 01
Fax: +33 (0) 1 48 03 90 20
E-mail: priparis@penalreform.org

Website: www.penalreform.org

د سر ټکي

اوسنی وضعیت

د کنفرانس هدفونه

د نوي پروګرام توکي (عناصر)

د نوي پروګرام پایلې (تظمینونه)

نوی پروګرام به په ځانګړې توګه څرنګه

تشریح کېدای شي

راتلوکې هڅې


د۱۹۹۹ کال د اپرېل له۱۳ څخه د همدې میاشتې تر ۱۷ پورې (۱۲۰) تنه چې د پینځو واړه لویو وچو له (۵۰) هېوادونو څخه راغلي وو، د بریتانیا د(سیوري) د سیمې په ( ایګهام) کې سره را غونډ شول چې د یوویشتمې پېړۍ په پیل کې د جزایي ریفورم په اړه یو نوی پروګرام وپتېیي. وزیرانو، د حکومتونو استازو، د پارلمان وکیلانو قاضیانو هو د هغو بین الململي، سیمه ایزو او ملي غیر دولتي موسسسو غړیو چې د جزایي ریفورمونو او د بشر د حقوقو په برخه کې کار کوي په مدني او پر دیموکراسي ولاړه کې د عدلې سیستم په رول، په تېره بیا د جېل په اړه خبرې اترې وکړې.

# اوسنی وضعیت

* کنفرانس جوته کړه چې د جېل سیستم په ټوله نړۍ کې په بحران کې راګیر دی نو لازمه ده چې سمون پکې را وستل شي.
* په نړۍ کې له پینځوسو میلیونو څخه ډېر سړي، ښځې او ماشومان بندیان دي.
* په ډېرو هېوادونو کې، ډېر بندي کسان د محاکمې په انتظار کې شپې او ورځې تېروي او ګڼ شمېر یې د مدافع وکیل څخه بې برخې دي.
* جېلونه ټولنې ته ډېره لږ ګټه رسوي. بندیخانې د بندیانو د کورنیو ژوند درې وړې کوي او قربانیانو قناعت نه پرې حاصلېږي.
* په ټوله نړۍ کې جېلونه داسې موسسې دي چې له ټولنې څخه بېلې او په اسانه له یاده وتلی شي. ریښتیانی کنټرول او خپلواکې څېړنې ډېرې لږ پکې تر سره کېږي.
* په عمل کې د بندیتوب شرایط ډېر ځله غیر انساني او له هغو سیمه ییزو او د ملګرو ملتونو له معیارونو څخه چې دولتونو لاسلیک کړي هم دي، ډېر را ټیټ دی.
* د بشر له حقوقو څخه سر غړونه لکه په تنګ ځای کې ډېر بندیان، د نظافت نشتوالی، د خوړو او دارو درمل لږوالی، د میکروبي ناروغیو او په جېل کې د مړینې مخ په زیاتېده، تاوترخوالی او فساد په لوړه اندازه دی.
* د جېل د پرسونل د روزنې کمبود، د مالي سرچینو لږوالی او په ګڼو هېوادونو کې د عدلي او د بند د سیستم تر منځ د انسجام نشتوالی، د شکایتونو د اورېدو او د عدالت په سر ته رسېدو کې اوږد ځنډ راولي.
* په جېلونو کې د اقلیتو نژادونو، قومونو او همداشان خوران غریبان له نورو څخه خورا ډېر دي.
* په ټولنه کې د نېشه یي موادو څخه د را ولاړو شویو ستونزو د حل له پاره  د نېشیانو بندي کول د بندیانو عمومي شمېر ډېر زیات کړی. په ځینو ټولنو کې په سلو کې له پنځوسو ډېر بندیان داسې کسان دي چې جرم یې په نېشه یي موادو پورې اړه لري خو تاوتریخوالی یې منځ ته نه وي راوړی. د خندا وړ خبره دا ده چې د بندیانو نیمایي کسان د جېل په منځ کې هم د نېشه یي موادو استعمال ته لا پسې دوام ورکوي.

# د کنفرانس هدفونه

* په آسیب پذیرو ګروپونو، لکه له ښځو، د لږ عمر ماشومانو، بدماشو صغیرانو، جسمي او عقلي معیوبانو، مرګ ته ورنژدې ناروغانو، بوډاګانو، قومي او مذهبي اقلیتو او سیاسي بندیانو سره هغه ځانګړې معامله نه کېږي، چې ورته اړ دي.
* د بند پر ځای نورې جزاګانې چې ګټې یې جوتې شوې تر اوسه وګړې ښه نه دي پرې پوهېدلې او عدالت یې په کافي اندازه نه پکاروي.
* بند ډېر ځله، د وړو جرمونو له پاره د وروستی چارې په څېر نه بلکه وار د واره پکارول کېږي.
* د مرګ سزا تر اوسه لا په ډېرو هېوادونو کې عملي کېږي، او هغه کسان چې د مرګ په دهلېزونو کې ، ډېر ځله، له کلونو راهیسې پراته دي، نه شي کولی چې د اغېزمنې او عادلانه دعوا له حق څخه برخمن شي.

په دې شرایطو کې، د کنفرانس هدفونه دا دي چې لاندې ټکو ته وده او پراختیا ورکړل شي.

* نوې بېلګې (مودل)، چې هدف یې د جزایي ریفورم بهتره عملي کول او په ټوله نړۍ کې د عملي کېدو وړ وي، د بشر د حقوقو له نړیوالو معیارونو سره سم، له محلي کلتورونو سره برابر وي اولږ لګښت وغواړي.
* د جزایي ریفورم  په اړه د فعالتونو نوی پروګرام، چې  په هغه کې په ټینګار کېږي چې عدالت ته د خوارانو غریبانو او له ټولنې چنډې ته کړل شویو کسانو لاس ور ورسي.
* د جزایي ریفورمونو د پلویانو د سیمو د تر منځ او په خپلې سمې کې د ننه د شبکو پراختیا او پیاوړي کول اوحکومتي موسسو، کارمندانو او غیر حکومتي موسسو تر منځ د کار د اړیکو دلا نور هم ښه کول.
* د بشر د حقونو د ژغورنې او لا نورو لوړولو په چوکاټ کې د جزایي ریفورمونو روښوالی، او آسیب پذیرو ډلو اوځینو ځانګړو ګروپونو لکه ښځو، ماشومانو اوعقلي معیوبانو ته خاصه پاملرنه.

# د یوه نوي پروګرام توکي

# (عناصر)

د خبرو اترو په ترڅ کې ګډون کوونکو په ټوله نړۍ کې د جزايي ریفورمونو د نوي پروګرام له پاره یو شمېر خورا مهم عناصر وموندل. په دې وروستیو وختونو کې د نویو را ولاړشویو دیموکراسیو پراختیا او د دوی د جزايي سیستم اصلاحات دي. کومې تجربې چې دوی پدې مورد کې اخستې په پراخه اندازه خپرې شي. دا عناصر دا دي:

* دا خبره منل چې د ښه حکومت کولو له پاره جزايي اصلاحات بنسټیز اهمیت لري.
* چې هیڅ جزايي ریفورم، د ټول جزايي سیستم د بدلون له پرته نه شي عملي کیدای. او په مدني ټولنه کې او د مدني ټولنې له خوا د بدماشۍ په مخنوي کې د دا ډول ریفورم د بري له پاره بنسټیز ځای لري.
* دا خبره حیاتي ده چې په تېره خواران او غریبان چې د ټولنې څخه ګوښه پاتې شوي او عدالت ته یې لاس ور رسېدلای نه شي، جزايي اصلاحات یې باید د غاړه اخستو ژمن شي.
* د دې خبرې څخه ډاډه کېدل چې د هر چا په تیره بیا د خوارانو، عدالت ته لاس ور رسېدای شي.
* چې هر تورن څوک حق لري چې محاکمې یې عادلانه او عدالت په سمه توګه وشي.
* چې د نېشه یي موادواستعمال له جزايي سیستم، په تیره بیا په هغه حالت کې چې تاوتریخوالی یې نه وي را پارولی، طبي او اجتماعي سروېسونه یې ښه په غاړه اخستی شي.
* د اختلافاتو د حل د پاره په ټولنیزو او غیر رسمي میکانیزمونو، چې د بشر حقوقونو مراعات پکې په نظر کې نیول شوي وي، د عدلي طرزالعملونو د لا شتمن کولو اړتیا.
* د جزايي عدالت د سیستم په هره درجه کې د مسؤلیت روښوالی (شفافیت).
* یو داسې جزايي ریفورم چې مشورتي او ښتون (پروسېسیوس) وي او ګرد سره را ټول وګړي په نظر کې ونیسي.

# د دې نوي پروګرام پايلې

# (تظمينونه)

نوی پروګرام دغه ټکي تظمينوي

* په هره ديموکراتيکه ټولنه کې، د دې اړتيا پېژندل چې د جزايي عدالت رول په ښه توګه وټاکل شي. دا عدالت بايد د هغو ستونزو د حل په غاړه وا نه خلي چې صلاحيت يې نه لري. له جزا څخه معافي دې هر ځل ممکنه وهڅوله شي.

* د دې خبرې بيا، بيا کول چې محکمې دې بند د لومړنی چارې په څېر نه، بلکه په استثنايي توګه پکاروي.

* داټکی مو چې ياد کړ په تېره د موقتي بند په برخه کې.

*...د دې خبرې منل چې شخصي موسسې چې،د جېلونو په اداره کې يې موخه (هدف)، له هرڅه د مخه نه ګټه ده، کېدای شي چې له حده ډېر بديتوب ته مخه کړي. نو له دې امله يې مخنيوی په کار دی.

* په جزايي سيستم کې د ټولو په تېره بيا د قربانيانو او تورنو د بشري حقوقو درناوی.

* د جزايي عدالت سيستم بايد يوازې د مخور له پاره نه، بلکه د ټولو له پاره يو شان وي.

* دجزايي سيستم په هره پوړه کې بايد د ښځو او د اقليتو نمايندګان موجود وي.

# دا پروګرام په خاصه توګه

# باید څه ډول عملي شي

که د کار پروګرام چه په دې شان ترتیب شوی دی درناوی یې وشي له نورو لیارو که رسمي وي که غیر رسمي، د چارو د حل ستراتېژي به چې سمدلاسه یې یوازې جزایي عدالت په غاړه اخلي، بېشانه پراختیا او وده ومومي. د بدماشانو له یوه ګڼ شمېر سره به چې سمدلاسه بندیان دي د ټولنې په منځ کې چلند وشي. دا کار به په جېلونو کې د بندیانو شمېر لږ کړي او د جېلونو چارواکوته به دا امکان ور کړي چې له بندیانو سره مرسته وکړي چې د بند په موده کې په ټولنه کې د بیا موندلو ته ځای چمتو کړي: کنفرانس د دې پروګرام د برې له پاره دا نهه ټکي په نښه کړل. د دې نهو ځانګړو ستراتېژیو لومړیتوب له یوه هېواده تر بله پورې توپیر کوي.د هر یوه د څېړلو دلیلونه مو په لاندې ډول ترتیب کړي دي.

**١- ترمیمونکی عدالت**

رسمي جزایي سیستمونو د تېري قربانیانو ته ډېر پام نه دی ور اړولی او نه دي بریالي شوي چې تېري کوونکي، دې ته اړباسي چې هغه زیانونه او ځور په غاړه واخلي چې د دوی کارونو اړولي دي.

* ترمیمي جزایی سیستم دې باید د رسمي سیستم نه بنه وبلل شي څکه چې دا سیستم د بندیانو د کمولو هڅه کوي.

* ترمیمي جزایی سیستم دې په مشروع ډول په ټولو هېوادو کې رواج شي او د عامه خلکو په ذهنیت کې د دې سیستم د منلو د پاره دې پروګرامونه جوړ شي.

* په ټولو هېوادو کې دې، د دې سیستم د پر مختګ په خاطر کوشش وشي.

* د دې سیستم د پاره دې د حقوقو په پوهنځی او ځینو نورو عدلي مرکزونو کې کورسونه جوړ شي او د جزایي دستګا کارکونکو ته دې مخصوصې روزنې وشي.

* هڅې دې وشي چې د هېوادنو تر منځ دې « ګټورې تجربې» د دې سیستم د ښه کېدو په خاطر بدلې شي.

### ۲- د اختلافونو ځای بدلې (بدیل) حل

د اختلافونو ځای بدلې حل لکه چې نوم یې څرګندوي، مخالفو خواؤ ته امکان ورکوي چې د جزایي عدالت له ډګر څخه د باندې، خپل اختلافونه د یوه پردي چا لکه د یوه منځګړي په مرسته حل کړي.

* د اختلافاتو د حل میکانزم باید مشارکتي او داوطلبانه وي او د بشر د حقونو او د نر او ښځې د مساویتوب درناوی پکې وشي.

* د حساس کولو پروګرامونو ته باید وده ورکړی شي، چې د هر چا او د ټولو (حکومتونو، د جېل د چارواکو، د احتمالي اختلاف لرونکو، منځګړو او په عمومي توګه د ټولې ټولنې) له ګډون او ملاتړ څخه ډاډ لاس ته راشي.

* د اختلافونو د حل کولو په باره کې باید د زده کړې امکان تامین شي.

* د اختلافونو د ځای بدلې حل ته مراجعه باید هر چا ته میلاو شي.

* د دې بهیر دوام باید د پلان له مخې لاس ته راشي، چې بشري او ملي سرچینې هم پکې راځي.

* د اختلافونو د ځای بدلې حل په رسمیت پېژندل باید د قانون د دولت داهمیت او مشروعې برخې اخستو په څېر وهڅول شي.

### ۳- دودیز (ټولنیز)عدالت

دودیز عدالت د دې لامله چې پخولاتوب ښه ګڼې، لګښت یې لږ دی، د پوهېدو وړ دی، وګړې برخه پکې اخلي او د ځایي دودونو او ژبې درناوی پکې کېږې عدالت ته د لاس د ور رسېدو د لیا ښه کولو په برخه کې ونډه اخلي.او د قربانیانو له حقونو نه دفاع کوي.

*  که دا لاره په ځای وي دولتي عدالت دې د غیر رسمي او دویز عدالت ځیني  مثالونه را واخلي، او په عدلي عدلي سیستم کې دې شامل کړي تر څو چې  بېوزلو خلکو ته د لاس د ور رسېدو وړ او ورنژدې شي.

*   که د عدالت دولتي او روایتي سیستمونه سره بېل وي، د دې دواړو تر منځ د اړیکو د کار د پراختیا دې وهڅوله شي.

*   دا خطره دې هم له پامه نه غورځورله کېږي چې روایتي عدالت داسې وسیلې و نه کاروي چې له دولتي عدالت اود بشر له حقونو سره سم نه وي.

*   دا دې وڅارل شي چې روایتي عدالت خورا ډېر شدید او بې مسؤلیته نه شي او یوازې د خپلو ګټو په غم کې نه وي.

**۴- د بندي کولو ځای بدلې (بدیلونه)**

پر هغو ستراتېژیو  سربېره چې  پورته  اشاره ورته وشوله، دا لازمه ده چې د بندي کولو  په ځای لا نورو کلاسیکو بدیلونو ته مخ ور واړول شي تر څو بندیتوب ته د نامناسبې مراجعې، چې په جېلونو کې د بندیانو د ډېرېدو سبب دی، مخه ونیوله شي.

*   قانون جوړونکي، اجرایه قوه، عدلي سیستم او عامه افکار باید په دې پوه وي چې د بند  بدیل څه دی.

*   موقتي بند او د لنډې مودې بند دې څومره چې کېدای شي په بله جزا واړول شي.

*   کله چې ځای بدلې جزاګانې په نظر کې وي د قربانیانو حق دې مدام په پام کې ونیول شي.

*   ټولو هغه کسانو ته چې په جزایي سیستم کې مداخله لري باید تعلیم ورکړل شي لکه،د حکومتی یا غیر دولتي موسسو چاروآکو چې د جزا په ټاکلو او تطبیقولو کې برخه اخلي.
*  مدني ټولنه باید د هغه رول په برخه کې حساسه کړی چې د بند د بدیل د پراختیا په برخه کې یې لوبولی شي.

* د پوروړیو او هغه چا په برخه کې چې جریمه یې نه وي ادا کړې د بند ځای نورې جزاګانې په سیستماتیکه توګه غوره وګڼلې شي.

**۵- د زنکیانو (نابالغو) سره د چال چلند بدیلې کړنلارې**

نړیوال معیارونه په تېره بیا د ماشومانو د حقونوتړون وایي چې د ماشومانو په بند محکومول دې د وروستی چارې په شان وکارول شي. د دې معنی دا ده چې د ورو بدماشانو په برخه کې دې یوه ځای بدلې ستراتیژې تعریف شي.

* د زلموټو (نابالغو) بدماشانو دا پروګرام باید منسجم او د درک وړ وي.
* حکومتونه دې د بدماشۍ د مخنیوي له پاره ګڼ شمېر میکانیزمونه تصویب کړي.
* د تاوان ورکول او همدارنګه د بندي کولو ځای بدلې جزاګانې په خاصه توګه د زلموټو له پاره خورا مناسب دي.
* ټول هغه امکانات باید برابر شي چې د توقیف په موقع کې، د شرایطو ټولې خواوې وڅېړل شي ترڅو د بند په ځای د بلې جزا د غوره ګڼلو له پاره لاره اواره کړی شي.
* که له بندي کولو پرته بله لاره نه وي د جېل رژیم دې د ورو بندیانو بیا روزنې ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

**۶- د توندو مجرمانو سره کړه وړه**

له تاو تریخوالي څخه مخنیوی د ټولنې له پاره دومره اهمیت لري چې د یوې ځانګړې ستراتېژې پرمختیا ته اړتیا لري.

* له شدیدو جنایانو سره مبارزه د لنډې او اوږدې مودې تدبیرونو ته اړتیا لري.
* د اوږدې مودې د حل لارو ته دې د لومړیتوب حق ورکړل شي. د حل په دې لارو کې دې د مخنیوي تدبیرونه هم شامل وي لکه د ذهنیتونو بدلول، د سیاسي خبرو اترو هڅول، د اقتصادي او د ښځو او نرانو تر منځ د توپیرونو لرول.
* که دا خبره هم ومنو چې سمدلاسه د یو شمېر توندو مجرمانو له بندي کولو څخه بله چاره نه شته، باید هڅه وشي چې د بند په موده کې د بند ځای بدلې لارې چارې وپلټلې شي، چې باید انساني اود بشر د حقونو په نړیوالو معیارونو سمې وي.
* ګڼ شمېر جنایتکاران یوه ورځ له بنده خلاصېږي. نو دوی دې ته  وهڅول شي چې د خپلو جرمونو مخې ته ودرېږي او داسې صلاحیتونه ومومي چې په ټولنه کې د ځای بیا موندلو چاره اسانه کړي.

* کله چې توند مجرمان له بند څخه خلاص شي، او د عام امنیت په خاطر دا لازمه وي چې هرچېرته چې ځي وڅارل شي. دا کار دې په داسې توګه وشي چې په ټولنه کې یې د ځای بیا موندلو ته تاوان ونه کړي

**۷- په جېلونو کې د بندیانو د شمېر لړول**

له بدماشانو سره د کړو وړو نړیوال معیارونه بندي کولو ته خورا لږې مراجعې توصیه کوي. هغه ستراتېژي چې د مخه ترې وغږېدو دې هدف ته ور رسېده ممکن کولی شي.سر بېره پر دې دا خبره ضروري ده چې د بند د سزا ناوړه پکارونه دې ډېره لږه کړی شي.

* له بېنبلو په ځای دې د بندیانو د بیا روزنې د پلان جوړول غوره وګڼل شي.
* عام وګړي دې په دې قانع شي چې د بندیانو د د بند کمول د ټولنې د ساتلو په خاطر کېږي.
* باید د پولیسو او محکمو د اغېزمنتوب د ارزونې مېتودونه چې د ګرفتار شویو اوبندي کسانو پر شمېر نه وي ولاړ، پراختیا ورکړه شي.
* موقتي بند مودې ته دې ټینګ حد وټاکل شي.
* له آزادی څخه د نه بې برخې کولو تدبیر دې د بندي کولو په ځای په ریښتیاني ډول وکارول شي.
* له جېل څخه دې د وتلو له پاره د چمتو کولو اغېزمن پروګرام ته مراجعه وهڅول شي.
* نېشه يي عملیان دې له بنده وایستل شي او روغتیایي خدمتونه یې دې غم وخوري.

**۸- د بند په اړه نوې لارې چارې**

بندیخانې باید د نړیوالو معیارونو ته په درناوي اداره شي، سربېره پر دې یو شمېر عناصر د بند د ټول سیستم له پاره باید مشترک وي.

* بندیخانې باید د ملکي عدالت په سیستم پورې اړه ولري نه د پولیسي یا عسکري ساختمان پورې.
* جزایي سیستم باید یو عامه خدمت وګڼل شي نو باید روڼ (شفاف) وي او د دولتي څارنې لاندې وي.
* د بند معیارونه دې تعریف کړای شي او د فعالیت ټولې برخې دې پکې شاملې وي. د بندیانو د شمېر او د ځای د ارتوالې تناسب دې پکې مراعات شي،
* د بندیخانې ماموران دې استخدام شي، تعلیم دې ورکړل شي، اومناسبه تنخا دې ورکړله شي او د کار له مناسبو شرایطو څخه دې برخمن وي. دولتي ماموران دې وي، نه پولیسان اوعسکر.
* بندیانو ته دې د کار کولو امکان برابرکړی شي خو کاردې هیڅکله سپکونکی اویا د جزا په  نیت نه وي.
* بندیان دې له جېل څخه وتلو ته چمتو کړی شوی وي.

**۹- د جزايي ريفورم په عمليه کې د مدني ټولنې برخه**

د جزايي ريفورم يوه ستراتېژي هم د مدني ټولنې له ګډون څخه پرته نه شي بريالۍ کېدای.

* حکومتونه دې د جزايي عدالت د عمليې په ټولو پړاوونو کې د مدني ټولنې د ور ګډولو اړتيا وپېژني.

* د دې له پاره چې جزايي ريفورم سر ته ورسول شي، ضروري ده چې د مدني ټولنې ګروپونه لکه غير دولتي موسسې، پوهنتونونه او مذهبي ډلې، خپل کارونه سره منسجم کړي.

* د جزايي ريفورم په باره کې د عامه عقيدو حساسول او روزل او د نشراتي وسيلو سره اړيکې خورا ضروري دي. رسنۍ (نشراتي) وسيلې د جزايي سيستم موسسو او پخپله بنديخانو ته ورتلی شي.

* ځايي ټولنيزې موسسې دې وهڅولی شي چې د بند شرايط کنترول او د بنديخانې په منځ کې په فعاليتونو کې برخه واخلي.

* مدني ټولنه دې وهڅوله شي چې د بنديانو او قربانيانو د حقونو د درناوي څارنه وکړي او په دې اړه راپورونه وليکي.

* غير دولتي موسسې اونور ګروپونه دې په ځايي، ملي او نړيواله کچه د جزايي ريفورم د پر مختګ په بهير کې را ګډ کړی شي. دا ګروپونه د مثال په توګه کولی شي چې مدافع وکيلان پيدا کړي، عدلي زده کړې ورکړي، اجتماعي مرستې وکړي، دعواګانې محکمو ته وړاندې کړي، په قانون جوړونکو زور ور واچوي، د ټولنې په منځ کې د نظم په ساتلو کې ونډه واخلي او د ښو عملي کېدو په برخه کې معلومات خپاره کړي.

# راتلونکي هڅې

د دې کنفرانس څخه چې کومې نتیجې را ووتلې د راتلونکي لسیزې له پاره د جزایی ریفورم په هکله د پام وړ پروګرام جوړوي.

کنفرانس ته د پنځوسو هېوادونو څخه یو سل اوشل ګډون کونکي غوارې چې د کنفرانس نتیجه حکومتونو ، د حکومتونو خپل منځي، سیمه ییزو او غیر دولتي موسسسو ته وړاندې کړي. دوی غوارې چې د کنفرانس نتیجه ټول حکومتونه ومني او په پراخه توګه خپاره شي چې د جزایی ریفورم په برخه کې د دې نوی پروګرام وده وهڅوله شي.

## د بند نړیوال ریفورم (PRI)

غیر دولتي او خپلواکه موسسه ده چې پر۱۹۸۹ کې په هالنډ کې تاسیس او ثبت شوه. مقر یې په لندن کې دی او په پاریس،مسکو، سانجیان او وارسا کې سیمه ییزې اداري لري. دملګرو ملتونو او د اروپايي ټولنې سره د څارونکی مقام او د افریقا د بشر او د اولسونو د حقونو د موسسې په وړاندې د څارونکي د حیثیت خاونده ده.

دا موسسه چې کلتوري ډول، ډول والی تر نظر لاندې نیسي د ریفورمونو د لاس ته راوستلو له پاره هڅې کوي..

* د بند په اړه د قانون د تطبیق او د بشر د حقونو د مراعات له پاره د نړیوالو وسیلو تدوین او عملي کول.
* په بند کې د ټولو هغو توپیرونو له منځه وړل چې له اخلاقو سره سم نه وي.
* د مرګ د سزا لغو کول
* په ټوله نړۍ کې د بند د سزا لږول
* د قربانیانو د ګټو د په نظر کې ساتلو سره، سره د داسې جوړونکو سزاګانو پکارول چې آزادي نه محدودوي او په ټولنه کې د ځای بیا موندل اسانه کوي.

دا موسسه له اشخاصو او غیر دولتي موسسو سره په ګډه کار کوي او له حکومتونو سره مرسته کوي.

## د جېل د څېړنو نړیوال مرکز(ICPS)

دا مرکز په۱۹۹۷ کال کې د بریتانیا د لندن د پوهنتون د کینګ کالج د حقوقو په پوهنتون کې تاسیس شو.

دا مرکز له حکومت او له مربوطو ادارو سره مرسته کوي چې د بند او بندي کولو ته د مراجعې په باره کې مناسب سیاست ته وده ورکړي. دا مرکز د نړیوالو موسسو، د حکومتونو تر منځ او غیر دولتي موسسو سره د پروژو او برآورد په بنسټ کار کوي. دا موسسه کوشش کوي چې خپل اکادمیکي پروژې ټولو ته او هغو د هغو ګروپونو او اشخاصو په ګډون دسترسی ورکړي چې د ملي او نړیواله کچه په نورمالو حالتونو کې دا څېړنې نه شي پکارولی. د دې ګروپونو او اشخاصو په ډله پرېکړه کوونکي، اداري چاروکی، نشراتي وسیلې او عامه عقیدې شاملې دي.

دا مرکز د دې لاندې موضوعاتوله پاره کارکوي:

* دچارپوهانو د یوې ډلې جوړول چې پر نړیوالو موافقو ولاړ او په بندي کولو پورې اړوند (موبوط) د بند د سیاست یو کلک بنسټ جوړکړی دی.
* د یوې داسې شبکې جوړول چې په نړۍ کې د بند د ښه عملي کېدو له پاره کار وکړي او چې د جېلونو اداري سیستم، د بند د عادلانه، انساني آبرومندانه او د لږ لګښت په اړه مشورې ترې واخستلی شي.